# HUMANISM IN WASIL ROKHANI`S POETRY

# د واصل روښاني په شاعرۍ کښې انسان دوستي

Dr. Asal Marjan*

**ABSTRACT:**

Humanism is a regular philosophical subject that studies religion, mysticism and culture. But it is focuses more on the relationship between man, society and the universe, which also promotes social ethics. This article examines Wasil Rokhani`s poetry in Humanist context. Wasil is an important poet of the Pashto classical literature. Although the theme of his poetry is more related to Sufism and Sufism as we know it is related to philosophy, so it can be said that there is philosophical Humanism in his poetry which studied in this article.

**Key words**: Humanism, Philosophical, Mysticism, Poetry, Classical Literature, Wasil Rokhani, Ethics.

انسان دوستي (Humanism) يو ډېر خور وور مفهوم او وسيع احاطه لري چې د يوروپي نشاة ثانيه سره سم په انساني/بشري علومو کښې مخې ته راغلے دے۔ دا باقاعده د څوارلسمې پېړۍ راسې د هغو مفکرينو د افکارو د پاره کارول شوې اصطلاح ده چا چې د يوناني کلاسيکي مفکرينو د هغو افکارو چې د انساني صلاحيتونو ، د انساني ژوند د ښائست او موجوده ژوند ته د حقيقت په تناظر کښې د کتلو هڅې کړې وې ، د نوي سره د وړاندې کولې۔ انسائيکلوپېډيا آف برټانيکا يې وضاحت څه دارنګې کوي:

> ‘’The attitude of mind which attaches primary importance to man and to his faculties, affairs, temporal aspirations and well-being, often regarded as the characteristic attitude of the Renaissance in western Europe.’’ (1)

ژباړه: دا (انسان دوستي) يوې ذهني روېې ته وئيلې شي چې انسان او د انسان صلاحيتونو ، معاملاتو ، جسماني يا مادي خواهشونو او سوکالۍ يا صحت مندۍ ته پکښې اوليت او اهميت ورکول کېږي او دغه څيز د مغربي يورپ د نشاة ثانيه مخصوص طرز فکر ګڼل کېږي۔

دا خالص د انسان زمکني ګټو (مفاداتو) سره اړونده دايرې نه چورلي ، يعني هغه ګټې چې تعلق يې خاص د انساني معاملاتو سره وي او د انسانانو د کلتور سره وي۔ دا نظريه د انسانانو د مشترکه ضرورتونو په اهميت زور ورکوي او د سماجي ارتقاء په خلاف نظريه سازۍ نه ځان ساتي (۲)۔

* Assistant Professor/Director Bacha Khan Studies Centre, Bacha Khan University of Charsada

د Humanism ژباړه په اردو کښې د انسان نوازي ، انسان دوستي ، انسان پسندي ، د انسانيت مذهب ، د انسانيت مسلک او د انساني علومو لوستنه (۳) په ټکيو کېږي او د انسان دوستي معنا قلندرمومند بيا پښتو کښې د "انسان سره مينه يا انسان دوست فعل" (۴) کړې ده .

د کارلس ليمنټ تر مخه د انسان دوستۍ مفهوم محض انسان جوړېدل دي ، يعني انسان چې چرته هم دے او په کومه درجه هم دے ، د هغهٔ د دلچسپيو سره وفاداري لرل دي (۵). انسان دوستي يوه نظريه ده خو دا نظريه ډېرې ژورې فلسفيانه جرړې يا فلسفيانه روايت لري. په دغه اساس پوهان ورته باقاعده د فلسفې يوه څانګه هم وايي. دا د انسان د بې وسيو او مجبوريو هغه تصور چې د تقدير په شان يو مقدس نوم ورکړے شوے دے يا هغه جبري تصور چې د انساني ژوند سره تړلې تمامي پرېکړې د يو مابعدطبيعاتي نظام سره تړي ، له منځه وړي او په انساني صلاحيتونو د مکمل باور اظهار کوي او انسان ته هغه شرف او مقام بخښي ، کوم چې هغهٔ (انسان) ته ازلي وديعت شوے دے.

- واصل روښاني ژوند:

واصل روښاني د پښتو ادب د دويم دور (روښاني دور) ډېر ياد او زباد شاعر دے. د خوشحال خټک ، اشرف خان هجري او کاظم خان شيدا په شان شاعرانو له خوا ستائيلے شوے دے. د واصل روښاني ديوان اول ځل د پاره د زلمي هېواد مل په زيار په ګېسټېټنر چاپ شوے دے چې بېخي ناياب دے. وروستو پوهاند شکور رشاد په سمونه او څېړنه"د واصل څو شعرونه" په نوم يې يوه وړه چاپ شوې ټولګه دستياب ده. خو د نېکه مرغه د استاذ پروفېسر ډاکټر پروېز مهجور په علمي زيار"د واصل روښاني ديوان" په نوم د پښتو اکېډيمي کوېټه له خوا په کال دوه زره شلم کښې چاپ شو چې په وړومبي ځل يې د کلام د خوند او رنګ سره نوے کهول سره اشنا شو.

واصل روښاني د اصل نسل يا حسب نسب په اړه زلمي هېواد مل ، شکور رشاد او حبيب الله رفيع د بحثونو او دليلونو په رڼا کښې ډاکټر پروېز مهجور صېب په دغه پايله رسېدلے دے چې د دوي نيکونه بنګښو کښې اباد شوي دي. پخپله واصل هم دلته بنګښو کښې پيدا شوے او لوے شوے دے او په دغه حواله واصل پښتون هم دے ، پښتو يې ژبه هم ده (۶) او په پښتو ژبه يې د کلام وئيلو په ترڅ کښې ډېر احسان هم دے. د واصل د ژوند او زمانې ، زېږون او مړينې په اړه هم کوم کوټلي مواد شتون نه لري خو د دوي په کلام کښې د راغلو داخلي شهادتونو په اساس يې قياسات بنودل شوي چې د زلمي هېواد مل ، شکور رشاد او حبيب الله رفيع په راوړل شوو دلايلو او تاريخونو ډاکټر پروېز مهجور د لړ نور کړاو او بحث نه پس يې د زېږون کال ۹۹۰ھ/۱۵۸۲ء او ژوند يې ۱۰۶۹ھ/۱۶۵۸ء پورې يقيني ياد کړے دے (۷).

- **واصل روښاني او انسان دوستي:**

واصل روښاني که هر څو د خپلو هم عصرو او هم فکرانو په شان د روښاني تصوف يو اهم او غوره مبلغ په توګه پېژندل کېږي خو د دوي شاعري بيا ببخي د مېرزاخان انصاري په رنګ د نورو ډېرو موضوعاتو مجموعه هم ګڼل کېدے شي. د دوي په شاعرۍ کښې رومانويت ، فلسفه ، اخلاق ، نجوم ، سائنس او د نفسياتو په شان علمي موضوعات موجود دي. واصل د پښتو د کلاسيکي ادب په ترڅ کښې مونږ ډېر په افتخار سره يادولے شو ، د چا فن چې د فکر سره غاړه غړۍ شوے دے او د اعلی ذوق ، فکري جمال ، تخيل او بصيرت ډېر ګنجائش لري (۸) . زمونږ موضوع لکه وړاندې يې تفصيل راغلے دے ، انسان دوستي ده او د واصل روښاني په شاعرۍ کښې انسان دوستي کتل دي ، نو په دغه تناظر کښې د دوي شاعري ګورو.

د واصل په شاعرۍ کښې چې بره مونږ کوم موضوعات يا خصوصيات ذکر کړل ، دا ټول په څه نه څه شکل کښې په انسان پورې اړه لري. نو په دغه حقله وئيلے شو چې د دوي بنيادي موضوع انسان ده. هغوي انسان ته د بېلابېلو اړيکو (تعلقاتو) په اساس کتلي دي. د مثال په توګه د خداے سره د انسان تعلق په کوم رنګ او شکل او د کومو ګټو (د دنيا او عقبا) په بنسټ جوړ شوے او مرتب شوے دے؟ د کائنات يو يو مظهر سره انسان خپلې اړيکې په کومو کومو اساساتو ټينګې کړې دي؟ او بيا په ټولنه (سماج) کښې د يو وګړي (فرد) په حېث د انسان کردار څنګه او ولې ودرولے شوے دے؟ . دغه قسمه سوالونو ته چې کله هم يو صوفي ، فلاسفر او مفکر ځوابونه لټوي نو هغه د انسان دوستۍ له دايرې چرته هم بهر نشي وتے.

د مذهبي يا بيا د اسلامي تصوف په ترڅ کښې واصل انسان د هغې سترې مرتبې خاوند يادوي ، چا ته چې د خداے يا قدرت د معرفت او د پېژندنې صلاحيت وديعت شوے دے او ورسره يې دا حقيقت هم ښودلے دے چې انسان د کائنات په هر څه باندې اختيار مند دے:

د بندګۍ لايق سړے دے
نور قامونه په څه شمار دي
په خداے هيڅوک نه پوهېږي
سړے يو په دا اطوار شي

(د واصل روښاني ديوان: ۱۰۴)

مونږ په شروع کښې د انسان دوستۍ د تعريف او مفهوم په ترڅ کښې وئيلي دي چې تر ټولو لويه انسان دوستي او غوره انسان دوستي د انسان په صلاحيتونو يقين لرل دي. دغه شعرونو کښې مونږ وکتل چې واصل د انساني صلاحيت څومره لوے علمبردار دے. "په خداے هيڅوک نه پوهېږي" معنا دا شوه

چې د خدا ے په خدایی (کائنات/فطرت) که د پوهېدنې وس او طاقت چا ته ترلاسه د ے نو هغه انسان د ے او کله چې څوک دا وایي چې انسان په کائنات/فطرت پوهېږي نو هغه يې د تسخیر کولو توان او صلاحیت هم لري ، د دې د بدلولو توان هم لري او د خپلې ګټې د پاره يې د کارولو توفیق هم لري.

واصل روښاني دا هم وايي چې دا خدا ے د معرفت او هستی د عرفان په وجه د انسان په وړاندې د نېستی او د زوال هيڅ ګنجائش نشته ، بلکې د خدا ے د پېژندنې په سوب به انسان مسلسل د هستی او پرمختګ په لور خپل سفر ته دوام ورکوي يا به داسې ووايو چې د هغوي په خيال عارفان ، څوک چې د ځان ، قدرت او د کائنات د ماهيت نه خبر دي، به د هرې ستونزې/مسئلې په وړاندې بريالي ووځي:

عــارفان واړه له شــر که منـــزه دي
لکه غشـي پاکيزه ووځــي له شستـه
د واصل چې له وحـدته اشنايي شوه
په نظر يې نېستي نه راځي بې هستـه

(د واصل روښاني ديوان:۴۸)

يو بل شعر کښې په معرفت څومره زور راوړي او انسان ته خپل حېثيت وريادوي:

پــر چارپايه معــرفت طاعت حــرام د ے
حېوان مه شه د انسان په نوم منسوب يې

(د واصل روښاني ديوان: ۱۲۱)

واصل روښاني د بشر او د انسان تر مينځه د معنوي تفريق/بېلتون ډېر په زړهٔ پورې وضاحت کړ ے د ے. د هغهٔ په نزد هر انسان بشر خو کېد ے شي ، ولې هر بشر انسان نه شي کېد ے. ګويا د هغوي په خيال په بشر کښې څه ځانګړي/مخصوص خصوصيات پکار دي ، هله به هغه د انسان په صف کښې د ودرېدو جوګه شي :

بشــر انســان شو ، ګدا ے سلطان شو
په روح راحــت کا د زړو بادشاه د ے

(د واصل روښاني ديوان:۱۲۳)

دغه شعر کښې د انسان دوستی ډېر په زړهٔ پورې راز پټ د ے. دلته د ګدايی تعريف او وضاحت شو ے د ے. ګدا د يو خوددار انسان په توګه معرفي شو ے د ے. خودي هغه وصف د ے چې د بشر نه انسان جوړوي. کوم انسان کښې چې خودي وي ، هغهٔ کښې همت وي او چا چې کښې همت وي هغه کامياب وي او يو خوددار بشر داسې کامياب انسان وي چې روح يې خوشحاله وي او د اولس (ټولنې) په زړونو بادشاهت کوي.

د انساني صورت/وجود د قدر او اهمیت توضیح په لاندینو شعرونو کښې څه دارنګې کوي:

د عالم صورت په ما کښې اشارت شۀ
زۀ یـــوازې مجموعـــــه د هـــر هنر یم
نېک او بد واړه زمــــا له فعله زېږي
درست عمل په علم کښلے په دفتر یم
(د واصل روښاني دیوان: ۹۱)

د اصیل سړي له بدې چارې عار شي
د رمـــوز اهـل به چېرې ګنهګار شي
کــه په جهــل د ادب له تــوره ووځي
څـو په خپله رضا درومي لا به خوار شي
(د واصل روښاني دیوان: ۱۰۳)

انسان دے چې د ټولو هنرونو مجموعه ده او د رموزو اهل دے چې د ټول عالم (کائنات) د اسراراتو انکشاف انسان د خپل علم ، پوهې ، شعور او ادراک په وسیله ترلاسه کړے دے او لا نور هم لګیا دے انکشافات کوي. د مذهبونو په ترخ کښې ، د روحانیاتو په ترخ کښې ، د فلسفې په اساس او د سائنسي تجربو په وسیله ؛ خو انسان ته دا فرض او صلاحیت قدرت/فطرت ورکړے دے چې هغه دا هر څه منکشف کړي. د سلواتور پولیدا د وېنا ترمخه:

"کائنات هر څه وو خو دا ورته پته نه وه چې هغه څه شے دے او انسان په هیڅ هم حساب نه وو ولې بیا یې هم د هر څیز پېژندګلو کولے شوه. د کائنات او انسان تر منځه تړون داسې دے لکه روح او بدن. انسان د کائنات روح دے او کائنات د انسان بدن دے." (۹)

هریقلېتس (۵۳۵-۴۷۵ ق م) وایي چې "د انسان کردار د هغه مقدر دے" (۱۰)، یو وګړے چې په ټولنه کښې کوم کردار ترسره کوي ، محنت کوي یا نه ، ښۀ کوي یا بد ، په نورو ټکیو کښې به دا ووایو چې خپل عمل د لارې مل ، ښېخي دغه خیال واصل په داسې انداز مخې ته راوړے دے:

هــره ونه چـې په ذات پېــژانده نه شي
په مېوه باندې یې خود اصل برسېر شي
د واصل روښاني دیوان: ۱۱۶

مېوه د ونې کردار دے یا به داسې ووایو چې د وګړي (فرد) کردار د هغه د پاره مېوه ده. دا مېوه چې څومره خوږه وي او څومره ډېره وي ، دومره د ونې قدر او اهمیت زیات وي. وګړے باید چې د ټولنیز

ژوند په جریان کښې هغه څه ولري چې د نورو وګړیو د پاره ګټور ثابت شي. دا موضوع په اصل کښې د ټولنیزو اخلاقیاتو سره اړونده ده. واصل وړاندې وايي:

ته په کوم دلیل زما د چارې غم خورې
اې مدام له ما پردیه د ځـــان خپله
(د واصل روښاني دیوان:۸۴)

لکه شمع د مجلس په میان کښې خاندم
نور عالم مشغولوم په ځان ستم کړم
(د واصل روښاني دیوان:۸۹)

زۀ مدام د خپل اشنا په مینه مل یم
لکه یوه شمع د بلــې شمعې بل یم
(د واصل روښاني دیوان: ۹۱)

نو ټولنې سره د انسان د اړیکو یا ټولنه کښې د انسان د کردار په اړه د واصل موقف ډېر واضح دے. هغه د مینې، ورورولۍ، اتفاق او یووالي نه ډکه، د یو بل سره د همدردۍ او د یو بل د پاره د قربانۍ نه ډک ژوند او ټولنه غواړي. هغه خپل هم لکه شمع د مجلس (ټولنه) نه ځان ځاروي او نورو ته هم تاکید کوي چې انساني ټولنه کښې ځان له ځان له کېدل نه دي. دغه تناظر د مذهبي انسان دوستۍ هم دے او د فلسفیانه انسان دوستۍ اخري غرض او غایت هم دغه دے چې انساني ټولنه په هر لحاظ ښائسته کړے شي. د نشاة ثانیه د تحریک مقصد محض دا نه وو چې د کلاسیکي علمونو او ادب مطالعه دې وشي، بلکې اصل منشا یې دا وه چې هغه ادب کښې چې د ژوند او انسان په حقله کوم شعور پروت دے، باید هغه راژوندے کړے شي (۱۱). او د ژوند په اړه د واصل دا زورور نظر هم د وړاندې کولو دے:

په جهان کښې لذتونه دلې خوښ یم
کل تـرخۀ خوارۀ مې وتلل په تله
(د واصل روښاني دیوان:۸۴)

د ژوند سره مینه کولو معنا د انسانانو سره مینه کول دي، د ترقۍ او پرمختګ سره مینه کول دي، د علمونو او هنرونو سره مینه کول دي او دا ټول انسان دوست فعلونه دي. د انسانانو چې په یو بل څومره ډېر انحصارات وي، په یو بل یې اعتماد زیات وي او د یو بل سره یې اړیکې، لاس مدد او کومک وي نو ټولنه او انساني ژوند به مخ په ترقۍ روان وي.

د واصل د کلام څخه د تصوفي او فلسفیانه انسان دوستۍ سره سم د اخلاقیاتو نه ډک داسې نور بلها شعرونه رانقل کېدے شي چې زمونږ د موضوع سره سمون خوري خو دلته یې مونږ صرف دا مطالعه څکه کافي ګڼو چې د دوي د شاعرۍ په موضوعاتو کښې دا ادراک مونږ ته وشو چې واصل یو ډېر قوي شص غوره انسان دوست شاعر هم دے.

## References:

1. Encyclopedia Britannica, (1972), volume 2, Encyclopedia Britannica LTD, William Benton, Publisher hondon, Chicago, Geneva, Sydney, Toronto, p.825
2. (Oxford Dictionary, (1982),T.B. Sykes, The Concise 7th edition, p.485)
3. Jamil Jalbi, Dr, Qowmi Angrezi Lughat, Islamabad, Muqtadara Qowmi Zuban, 1992, p.942
4. Qalandar Momand/Farid Sehrai, Daryab, Peshawar, NWFP Text Book Board, 1994, p.71
5. Carlis Lemaent, Insandosti ka Falsafa, Tarjuma: Amjad Ali Bhatti, Lahore, Fiction House, 2007, p.59
6. Khweshki, Parwez Mahjor, Dr, Prof, da Wasil Rokhani Zwand Fikar aw Fun (Sariza/Muqadma), Mashmola: da Wasil Rokhani Deewan, Quetta, Pashto Academy, 2020, pp. 2 to 4
7. Ibid, pp. 4 to 9
8. Ibid, p. 2
9. Salwator Polida , Insan Huny ke Naate, Tarjuma: Amjad Ali Bhatti, Lahore, Fiction House, 2007, p.39
10. Jalal Pori, Ali Abbas, Rewayaat-e-Falsafa, Lahore, Al-Misal Printers, 1969, p.35
11. Iqbal Khan, Insandosti-Liberalism-Jamhoriyat, Lahore, Izhar Sons, 1984, p.6